SHARIAT

شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال اوه شپېتمه گڼه پرله پسې (۳٥٤) شنبه د۱٤۲۱ هـ ق کال دجمادي الثاني (۱۸)

د۱۳۷۹هـ ش کال د وږي دمياشتې (۲٦) د ۲۰۰۰ ميلادي کال د سپتمبر (۱٦)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ئاسې (۱)

هغه (عدل) ډېر نژدې دی

تقوا (پرهيزگاري) ته.

(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

با نصب شش پایه جنراتور در ولایت خوست :

حدود سه هزار خانواده از انرژی برق مستفید گردیدند

خوست - باختر

با نصب شش پایه جنراتور تولید برق در نقاط مختلف ولایت خوست حدود سه هزار خانواده در آن ولایت از انرژی برق مستفید گردیدند.

این مطلب را محترم حافظ محمد رئيس اب و برق ولایت خوست به خبرنگار آژانس اطلاعاتی باختر ابراز داشته افزود : با نصب شش پایه جنراتور تولید برق حدود دو هزار خانواده در ولسوالی اسمعیل خیل و مندوزی، چار صد خانواده در منطقه درنايو به حدود صد خانواده در ولسوالی جريو، حدود دو صد خانواده در مرکز ولایت خوست، صد خانواده در منطقه غرغوره و به همین ترتیب یکصد و هشتاد خانواده در منطقه مردی خیل و یکصد خانواده در منطقه غروبی از انرژی برق مستفید گردیدند.

وی افزود : اکثر از باشنده گان ولایت خوست از کشور عربستان سعودی الات

ص ٤

در نجراب :

یک باب مدرسه اساسگذاري شد

سنگ تهداب مدرسه مرحوم خواجه صاحب نجراب اخیرا طی محفلی در ولسوالی نجراب گذاشته شد.

در آغاز محفل نخست آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید سپس محترم قاري محمد نعيم محمدي ولسوال ولسوالی نجراب، محترم قری... مسوول مدرسه ، محترم مولوی حبیب الرحمن محترم مولوی عبدالعزیز مسوول معارف ، محترم مولوی عبدالمتین حنیفی حقانی، محترم ضابط محمد نسیم مسوول نظامی و عده از مسوولین و موسفیدان ولسوالی متذکره پیرامون

ص ٤

د مسعود اوربانی ترمنځ :

سخت اختلافات

را پیدا شول

بدخشان ته د مرکز لیږدولو په سر

مسعود د فیض آباد پر ځای کولاب ته د مرکزیت په حیث ترجیح ورکوي

استاد سیاف او حوارییـن یې په یوه نا معلوم برخلیک کې قرار لري

د تالقانو په له لاسه ورکولو سره نور هغوی ته په ټول هیواد کی د پایتخت ځای نه دی پاتي

تخار : شريعت : بيکا شپه شريعت ته د يوې موثقې خبري منبع په حواله وويل شول چې د احمد شاه مسعود او د هغه د را پرځيدلي جمهور رئيس استاد برهان الدین رباني ترمنځ اختلافاتو بوځلي بيا زور وموند . د خبر په حواله د هغوي د اختلاف اساسي لامل بدخشان ته د دوی د سياسي مرکز (پايتخت) انتقالول دي.

استاد رباني په دې خبره ټينگار کوي چې په اصطلاح د خپل قانوني حکومت وروستي مرکز د بدخشان ولايت مرکز د فيض آباد ښار ته منتقل کړي خو مسعود په سيمه کې د روانو کړکيچنو حالاتو په ملاحظه غواړي چې خپل وروستي مرکزيت د هيواد سرحدي پولي کولاب ته انتقال شي. په خبر کې د استاد سياف نا معلوم برخليک ته هم اشاره شوي چې د کولاب او فيض آباد تر منځ په ترخه تمرکز هيڅ د يلو توان ورسره نه ليدل کيږي احمد شاه مسعود ځکه کولاب

٤ مخ

په جوزجان کې :

دوه سوه کورنی د گاز له انرژی څخه برخمنی شوی

جوزجان - باختر :

د جوزجان ولايت د آقچي ولسوالۍ د کندر باغ په کلي کې د گاز د نل په غزولو سره څه د پاسه دوه سوه کورنۍ د گاز له انرژۍ څخه برخمنې شوې.

پر مربوط خبر ځای د باختر

٤ مخ

هيئت پوهنتون لوماليندا وارد کابل گرديد

کابل - باختر :

محترم قاري دين محمد حنيف وزير تحصيلات عالي با هيأت انجنيران امريکايي که از سوي پوهنتون لوماليندا جهت طرح ساختمان منازل

ص ٤

په باميانو کې :

د نرۍ رنځ او جزام د ناروغيو ٥۰ بستريز روغتون تاسيس شو

باميان - باختر

د باميانو ولايت په مرکز کې په دې وروستيو وختو کې د نرۍ رنځ او جزام د ناروغيو د علاج او درملنې د پنځوس بستريز روغتون د بنسټ ډبره کېښودل شوه .

په هيواد کې د روغتيايي او ټولگټو

٤ مخ

طي کنفرانسي :

موضوع تجديد ساختار شوراي امنيت بررسي گرديد

کشور هاي عضو سازمان کنفرانس اسلامي ديشب طي نشستي در مقر سازمان ملل متحد در نيويارک موضوع تجديد ساختار شوراي امنيت را بررسي گردند.

دراين نشست که به رياست

٤ مخ

بند قرغه مجدداً اعمار میگردد

کابل - باختر

در مراسم آغاز کار باز سازي و ترميماتي کاسه بند ذخيره و دروازه هاي بند قرغه محترم مولوي محمد

ص ٤

د ننگرهار ولايت د متخنكي طب انستيتوت د ببلا ببلو څانگو له خوا د تیرو دریو کلونو په ترځ کې :

۱٥۰ تنه محصلین فارغ او ټولنې ته وړاندې شوي

شريعت : د ننگرهار ولايت د متخنكي طب انستيتوت د پرستاري څانگه په ۱۳٥۰ کال تأسيس او په پرله پسې توگه يې په اوو دوروکي کې شمير

٤ مخ

با تحکيم پايه هاي ا.ا.ا در ولايت باستاني هرات :

تا کنون تعداد مدارس ليليه به ٦٤ باب رسيده است

شريعت : رياست معارف ولايت هرات براي همه نونهالان اين خطه باستاني زمينه تعليم و تربيه را فراهم نموده و نسل جوان را عملاً در اين پروسه شامل و سهيم ساخته است .

اين مطلب را محترم مولوي شهاب الدين ثاقب رئيس معارف ولايت هرات در دفتر کار خويش در مصاحبه با

ص ٤

در ولایت لوگر :

دو جریب زمین از بته های چرس پاکسازی گردید

لوگر - باختر :

ساحه دو جریب زمین اخیراً در مربوطات ولایت لوگر از وجود

٤ مخ

پروژه چک وردک تاریخ درخشان کمک هاي بشري را در افغانستان دارد

شريعت: خوانندگان نهايت عزيز! در شماره ۳٥۱ مورخه سپتمبر سال ۲۰۰۰ ما گزارش مختصري پيرامون تاريخچه و کارکرد هاي پروژه شفاخانه ولسوالي چک ولايت ميدان وردگ به نشر رسيد اينک بنا بر أهميت موضوع آنرا دنبال ميکنيم. اميد است مورد علاقه و دلچسپي شما عزيزان قرار گيرد.

در سال ۱۹۸۹ م بعد از اينکه روسها افغانستان را ترک کردند، کميته سابقه افغان - جرمن DAK تصميم گرفت با کمک مالي

ص ۲

در شهر کابل :

مساعدت سره میاشت توزیع گردید

کابل - باختر

به ارزش دو صد و هشتاد مليون افغاني مواد خوراکه روز پنجشنبه به يک تعداد از خانواده هاي مستحق و بي بضاعت در نواحي مختلف

ص ٤

کابل ښاروالي :

له قانوني مقرراتو څخه د سرغړونې له امله ۱۰٦ دکانونه وتړل

کابل - باختر :

د کابل ښاروالي له طرحه شويو قوانينو او مقرراتو څخه د سرغړونې له امله د کابل ښاروالي د بيو د کنټرول د

٤ مخ



عکاس: يوسف

در شهر سدني استراليا :

بیست و هفتمین دور بازیهای سپورتي اولمپیك آغاز گردید

سدني : بيست و هفتيمن دور بازي هاي سپورتي اولمپيك تابستاني ديروز جمعه در شهر سدني استراليا افتتاح گرديد.

ده هزار ورزشکار از يکصد و نود کشور در بيست و هشت نوع سپورت براي بدست آوردن جوايز و مدالهاي سپورتي در اين مسابقات با هم رقابت مينمايند.

قبل از گشايش بازي هاي اولمپيك سدني هزاران تن از سياه پوستان بومي قاره استراليا در جاده هاي سدني راه پيمايي نموده به ظلم و استبداد سفيد پوستان که در استراليا اکثريت را تشکيل ميدهند اعتراض کردند و خواستند با استفاده از اين فرصت توجه جهانيان را به خود معطوف دارند.

امریکا به عراق هوشدار داد

منابع خبري بين المللي - باختر

وزارت دفاع ايالات متحده امريکا به عراق در زمينه هرگونه تحرک بر ضد همسايه گانش و باز سازي

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د نشه يي توکو په هکله د ملگرو ملتو نوي څرگندوني

تيره ورځ په ملگرو ملتو کی د نشه يي توکو د مخنيوي د اداري مسؤل چارواکي، ارلاکو په افغانستان کی د اپيمو پيداوار د بنديز او کمښت په هکله وويل : سږ کال سره له دی چی د اپيمو د پيداوار په سلو کی ديرش برخی کمی ښودل شوی خو بيا هم دلته تر هر ځايه زيات اپيم توليديږي او دا کمی هم د وچکالی له کبله منځ ته راغلی .

د نوموړی يوه بله خبره دا وه چی په دی هکله د ملگرو ملتو د يو څو پروژو په ټپه دريدل د مالي ستونزو او له هيواده د ملگرو ملتو د کارکوونکو د وتلو له کبله و

ص ۲

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

مونږ د ملگرو ملتو د مرستو نه کولو په هکله ځکه څه نه وایو چی اوس د نوموړی اداری د بی طرفی او خاصو سیاسی اړیکو په هکله هسی هم ډیری پوښتنی را پیدا شوی دی، خو زمونږ خبره دا ده چی ولی ملگری ملتونه د خپل لوی نامه سره سره حقایقو ته بل رنگ ورکوی او د نړی والو سترگو ته خاوری ور اچوی ، حقیقت خو دا دی چی په گرده نړی کی په بوازینی توگه له هر چا زیات افغانان له هر ډول نشه یی توکو څخه ډیره کرکه لری او هم یی استعمال ډیر کم دی،

افغانستان کلک مسلمانان دی او د خپلو دینی لارښوونو سره سم ددغسی شیانو استعمال حرام او ناروا گڼی، خو دا بوازی اقتصادی مجبوریتونه دی چی خلک یی ددی مضربوتی کرلو ته هڅولی دی او د سږنی کال پیداوار د کمښت په هکله هم واقعیت دا دی چی دا د وچکالی له کبله ځکه نه و چی د کوکنارو کښت تر هر څه زیات په تنده کی ډیر مقاومت لری، بلکی د کمښت اصلی علت د اسلامی امارت هغه پریکړه وه چی ددغو پیداوارو تر دریمی برخی د راکمولو په هکله یی تیر کال کړی وه او د همدی تدریجی پلان په اساس بی د بشپړ بندیز فرمان صادر شو او هغه ورغ لری نه ده چی په ټول هیواد کی به د کوکنارو د کښت هیڅ نښه نه وی خو نه پوهیږو بیا به د ملگرو ملتو اداری ته څه حیثیت پاتی شی ؟ ځکه دا ټول اټکلونه به یی غلط وخیژی او بیا به د پروپاگند لپاره هیڅ هم نه لری پاتی شوه د ملگرو ملتو د کارکوونکو د وتلو خبره، دا خو معلومه ده چی اسلامی امارت چاته هم په دی اړه د وتلو دستور نه دی ورکړی دا د هغوی خپل مشکلات دی چی ځانگړی سیاسی تمایلات لری دوی باید هیڅکله نه وای وتلی .

همدارنگه د مالی ستونزو خبره چی دا هم په خپله دوی پوری اړه لری، ملگری ملتونه خو د مخدراتو سره د مبارزی لپاره نړی واله بودیجه او خپل مسولیت لری که د نیستی له لاسه د هغوی پروژی سقوط کوی نو دا خو خپله په دوی پوری اړه لری خو په هر صورت که څوک مرسته کوی او کـه نه اسلامی امارت به د خلکو د دینی او اخلاقی ارزښتونو د ساتلو په خاطر د مخدراتو سره خپله مبارزه جاری ساتی او دا به نړیوالو ته په ډاگه شی چی اسلامی امارت په څومره اندازه د اصولو پابند دی او هغه مشکلات چی له پخوا نه په میراث ورته پاتی دی په څه ډول له منځه وړی او بیا به نو وکتل شی چی نړی واله ټولنه رښتیا هم د نشه یی توکو د مخنیوی په هکله خپلو مسولیتونو ته څومره پاملرنه کوی مگر هغه څه چی نړی والو ته لا اوس هم ښه څرگند دی هغه ددغی ټولنی له توپیره ډک چلند دی چی د ځینو مغرضو هیوادو په غوښتنه یی د ټولو موازینو پر خلاف پلی کوی په دی هکله د کولمبیا مثال هر چاته ښه څرگند دی چی څرنگه په لومړی اعلان سره د زرو میلیونو ډالرو ژمنه ورسره وشوه او ملگرو ملتونو یی په ډیره بیړه مرستی ته ور وځغاستل خو افغانستان چی له یوی خوا د روسانو د ناروا یرغل په نتیجه کی وران او کنډواله شو او له بلی خوا یی د روانی وچکالی په اثر له نیمایی زیات زراعتی حاصلات لـه منځه تللی، د دوی په اند د هیڅ ډول بشری او نړی والو قانونی مرستو متسحق نه شی گرځیدلی .

پروژه چک وردک تاریخ درخشان کمک...

جامعه اروپا یك شفاخانه را در ولسوالي چك وردك بنا نمايد. البته كميته افغان - جرمن تيم هاي طبي خويشرا در زمان اشغال افغانستان توسط روسها ميفرستاد و بمنظور بنا اين شفاخانه محل مناسبي را كه در جوار ستيشن برق آبي كه از طرف كمپني زمنس قبل از جنگ جهاني دوم اعمار گرديده بود تعين و از زمان آغاز جنگ تا كنون اين منطقه از صدمات ماين ها و جنگ ها محفوظ و در امان مانده است. اين ساحه با داشتن آب فراوان در طول سال انتخاب خوب تلقي ميشرد در همين وقت از كارلاشيفتر سرنرس سابقه دار OT

دور تموند جرمني كه در كميته افغان - جرمن در منطقه سده و ولايت خوست كار مينمود مطالبه گرديد تا در پيشبرد پروژه چك با دكتوران كار را آغاز نمايد. در زمان جنگ كلينيك با امكانات محدود يعني در دو اتاق عمليات جراحي را بعضي اوقات بدون انستيزي در روشني مشعل انجام ميداد .

در ماه جولاي سال ۱۹۸۹ م بعد از موافقه شوراي محل كار اعمار شفاخانه اول آغاز و از جانب جامعه اروپا تمويل آن قبول گرديد. و در جون سال ۱۹۹۱ م با وصف موجوديت مشكلات سازماني و موانع در تاخير كار تعمير ۲۰ بستري طي محفل شانداري به اشتراك صد ها تن از اهالي محل و مسوولين حكومتي رسماً افتتاح و به كار خويش آغاز نمود. در جريان همين دو سال كارلاشيفتر چندين بار به جرمني سفر نموده تا سطح تمويل پروژه را بالا ببرد. اين تلاشهاي وي تا كنون ادامه داشته و تعقيب ميگردد.

در دسامبر ۱۹۹۱ م زمانيكه با كميته افغان - جرمن قرار داد ختم گرديد، كارلا توسط خدمات انكشافي جرمن استخدام و دو باره به چك فرستاده شد اما اينبار نه به حيث سرنرس بلكه بحيث آمر پروژه روي اين تصادف نيك موصوفه يكبار ديگر خود را در افغانستان يافت. لاكن نه براي مدت زياد، بدبختانه در دسمبر ۱۹۹۲ وقتيكه قرار داد تمويل اتحاديه اروپا به اتمام رسيد و كميته افغان - جرمن نسبت مشكلاتي داخلي كه داشت نتوانست كه به حل موضوع بپردازد و احتمال داشت شفاخانه كه قسماً تكميل گرديده بود نسبت عدم موجوديت منبع مالي بسته شود .

در همين زمان فقط تعداد محدود كارمندان غرض جلوگيري از چپاول باقي مانده بودند. كارلا عازم

دواخانه شفاخانه ولسوالي چك ولايت ميدان - وردگ با انواع مختلف ادويه جات مجهز ميباشد عكاسي يوسف

جرمني گرديد تا غرض نگهداشت پروژه منابع مالي را جستجو نمايد. وي از دوستان قديمي خويش در بخش طبي امداد خواست تا شفاخانه را براي همان سال با مقدار محدود پول فعال نگهدارد . بالاخره كميته CPHA كنوني واقع در شهر دورتموند باز سازمان دادن وجوه مالي و پشتيباني اتحاديه اروپا توانست شفاخانه را تمويل نمايد.

در سال ۱۹۹٤ م به اثر تلاش هاي زياد جهت پيدا نمودن يك منبع تمويلي دراز مدت قراردادي با موسسه غير دولتي فرانسوي بنام MRCA (تجديد كورسهاي طبي براي افغانها) منحيث شريك مالي و CPHA به حيث NGO تطبيق كننده كه طراح و هماهنگ كننده آن كارلا بوده است عقد و به كار آن ادامه داده شد.

قبل از آن در سال ۱۹۹۳ نمايندگي انكشاف مساعدتهاي تخنيكي جرمني GTZ موافقه نمود تا با كمك مالي خويش باقيمانده تعمير را تكميل نمايد تا اواسط سال ۱۹۹٤ يك آشپز خانه يك نان پزي، يك دوبي خانه، و يك اتاق نشيمن نيز اعمار گرديد در همين وقت به همكاري مالي CPHA چندين ساختمان متمم از قبيل اتاق هاي ديپارتمنت مريضان بيرون، اتاق واكسينيشن، بخش كوچك براي فزيوتراپي ، يك ليليه براي مامورين مردانه، يك حويلي محافظوي و يك گاراژ بنا يافت و با افزودن سامان الات تخنيكي از قبيل ماشين اكسري و يك پايه جنراتور، و از دياد در تعداد بستر ها و استخدام بيشتر مامورين طبي بشمول دود اكثر اناث اين پروژه رشد نمود و در جولاي ۱۹۹٤ شفاخانه يك شكل واقعي و مكمل را بخود گرفت. در جولاي ۱۹۹٥ كار اعمار ۲۰ بستر ديگر براي طبقه اناث و اطفال طرح و آغاز گرديد كه باز هم از طرف GTZ تمويل ميشد و سامان الات و لوازم براي غذا را سفارت المان در پاكستان تهيه نمود. در سال ۱۹۹٤م زمانيكه تعمير تكميل گرديد ظرفيت شفاخانه ٤۰ بستر يعني دو چند گرديد. و خدمات طبي خويش را براي اهالي محترم ، زنان و اطفال قسماً بلند برد.

نمايي از جنراتور هاي شفاخانه ولسوالي چك ولايت ميدان وردگ عكاسي يوسف

در سال ۱۹۹٥ با ظهور تحريك اسلامي طالبان يك تغير كلي ديگر بوقوع پيوست . طالبان كنترول منطقه را بدست گرفته تمام قوماندانان قبلي را خلع سلاح و سلاحهاي شان را جمع آوري كردند و يك امنيت كامل و مطمئن را بوجود آوردند.

علاوتاً حكومت جديد از اعمار هرگونه فشار و نفوذ بالاي پروژه خود داري كرده و استخدام زنان را مجاز دانست .

قابل ياد آوريست در سال ۱۹۹٦ زمانيكه قرارداد با اتحاديه اروپا به اختتام ميرسيد مبلغ ۳٦۰ هزار مارك الماني كه معادل به ۲۰۰ هزار دالر امريكاي بود بمصرف نرسيده بود در همين رابطه مدت شش ماه مذاكرات شديد جريان داشت تا اينكه براي ۱۸ ماه ديگر قرار داد تمديد گرديد كه پول متذكره به مصرف برسد بدينوسيله فرصت بسيار خوب ميسر گرديد و پروژه توانست كه در همين مدت كمك هاي مالي سازمانهاي ديگر را نيز تحكيم و اساسات مالي خود را تثبيت و از طريق سرمايه هاي شخصي افزايش دهد .

در اخير سال ۱۹۹۸ تعداد مامورين ٤۱ تن افغان بوده، ماشين التراساوند و يك دستگاه ECG سه كاناله به آن افزوده شد.

يونيسف با بلند بردن مركز واكسينيشن به يك مركز واكسينيشن منطقوي سه تن واكسيناتور را استخدام نمود كه يكي آن از طبقه اناث ميباشد.، WFP موافقه نمود تا با همكاري UNDP/CDAP و يونيسف بصورت مداوم در قسمت تهيه مواد خوراكي با اين پروژه همكاري مينمايد. به شفاخانه چك وردك نه تنها مردم منطقه ارزش قايل اند بلكه امارت اسلامي افغانستان و جوامع امدادي بين المللي كه در افغانستان كار ميكنند نيز حرمت ميگذارند . دهمين سالگرد ايجاد اين پروژه درسوم سپتمبر ۱۹۹۹ بر گزار گرديد و طي آن از كار هاي خانم شيفتر تمجيد بعمل آمده تمام سخنرانان براي وي قلباً دعا نمودند. كميته CPHA فيصله نموده تا منبع مالي مكفي را تهيه نمايد تا بدينگونه كارلا به موفقيت هاي بيشتر در يكي از فقير ترين ممالك جهان تا زمانيكه با يك سياست تحمل ناپذير مواجه نگرديده به كار خود ادامه دهد .

بودن و آينده پروژه در كشوري كه متهم به نقض حقوق بشر و زنان باشد كار اسان نيست و مرتبط است به مساعدتهاي مالي موسسات و اشخاص ذيعلاقه با وجود پرابلم هاي زياد شفاخانه چك وردك توانسته است خدمات قابل قدري را براي زنان و اطفال نيازمند واهالي منطقه انجام دهد .

د ملاریا د میکروب د وژلو یوه نوې لاره

په امریکا کې د څېړونکو یوې ډلې وایي چې دوی د ملاریا د میکروب د وژلو یوه داسې لاره موندلې ده چې هغه د لوړې مړه کړي .

د ملاریا ناروغي چې د ځانګړو غوماشو د نیش وهلو له لارې پیښیږي په کال کې تر دوو ملیونو ډېر خلک وژني. خو اوس چې د ملاریا میکروب د داروګانو په مقابل کې مقاومت تر لاسه کوي نو د دغې ناروغۍ د مخنیوي له پاره نورو لارو چارو ته ډېره پاملرنه کیږي.

یو ساینسي عالم کورین فایزر وایي چې کله د ملاریا میکروب لرونکې غوماشې څوک په نیش ووهي نو میکروب یې بیا د وینې پر سرو ژونکو برید کوي. په لومړیو ٤٨ ساعتونو کې دغه میکروب ښه وده ورکوي او تر خپلې اصلي کچې څو ځله لوییږي . وروسته بیا سره وویشل شي او دېرش نوي میکروبونه وزیږوي د وینې په سرو ژونکو کې د میکروب د دغې ودې او ډېریدنې له پاره د خوړو اړتیاوې او دغه خواړه دوی د زیانمن شویو ژونکو څخه د باندې د نورو ژونکو څخه تر لاسه کوي د ا لا له مخکې څخه معلومه شویده چې کله میکروب د وینې ژونکې زیانمنې کړي نو هغه بیا ډېرې نفوذ منونکې شي او د دغو ژونکو څخه بیا ژر په اسانۍ سره ورننوتلې او وتلې شي خو د امریکا د روغتیا په ملي اداره کې څېړونکو اوس دا موندلې ده چې په ژوونکو کې دغه نفوذ والې د هغو نړدې زرو سوریو له کبله پیدا کیږي چې میکروب یې د ژونکې په باندنۍ خواکې ددې لپاره جوړوي چې د خپل ژوند له امله د ژونکې د باندې څخه خواړه وزبیښي .

حشره څېړونکې منجي دیسای وایي چې که د دغو سوریو د بندولو کومه لاره پیدا کړای شي نو میکروبونه به له لوږې مړه شي ، د دغه څېړنې په طبیعت یا نیچر نومي ژورنال کې خپرې شوې دي او د یوې نوې تکنیکي بر یا په توګه یې د ملاریا د ماهرینو له خوا هر کلې شویدی. چې دا کیدای شي د نویو ملاریا ضد داروګانو د جوړولو له پاره لاره پرانیزي.

د سرطان د هر ډول ناروغۍ د مخنیوي واکسین

د کینسر یا سرطان د ناروغۍ تر دوه سوو ډېر ډولونه دي او دېته اړتیا شته چې اوسنۍ د اروګان باید د دغې ناروغۍ د هر ډول درملنه وکړي خو اوس د امریکا په متحدو ایالتونو کې څېړونکو یوه داسې واکسین ته وده ورکړېده چې د سرطان د ټولو ډولونو څخه به په ژغورنه کې مرسته وکړي.

د طبیعي درملو نومي ژورنال د وروستۍ ګڼې سره سم دغه واکسین د بدن دفاعي سیستم بېرته را هڅوي چې د سرطان د تومور یا دانې ژونکې له منځه یوسي خو ددې تر څنګ د سرطان یوې پخوانۍ تولنې بیا په دې هکله اندېښنې څرګندې کړېدي چې دغه واکسین کیدای شي د بدن نورې سمې ژونکې یا حجرې هم په نښه کړي.

د دغې نوې څېړنې تر شا فکر دا و چې د سرطان یو داسې هر کاره واکسین جوړ کړل شي چې هغه بیا دفاعي سیستم بېرته راوپاروي او د سرطان ټولې حجرې په نښه کړي او له منځه یې یوسي.

په امریکا کې د ډوک پوهنتون او د زیران اداري یو داسې واکسین جوړ کړېدی چې ټیلو میرایس پروتین په کې دی دغه پروتین په ټولو ژونکو یا حجرو کې وي خو د سرطان په ژونکو دغه پروتین زیات وي او له همدې کبله څېړونکو غوره کړه دغه پروتین چې د هر ډول سرطان چاره وکړي په لابراتوارونو کې په موږکانو باندې د دغه واکسین ازموینو ښودلې ده چې په هغو کې یې د بېلو بېلو سرطانونو تومورونه کوچني کړل څو په برتانیه کې د سرطان د څېړنو د شاهي صندوق ډاکټر جان پای راندېښمن څکه دی وایي څرنګه چې هغه پروتین چې دغه واکسین یې په نښه کوي په هره یوه ژونکه کې وي نو کیدای شي چې دغه واکسین بیا د بدن دفاعي سیستم وهڅوي چې د سرطان د ژونکو تر څنګ روغې ژونکې هم له منځه یوسي. خو د اوس له پاره په دغه واکسین د نورو څېړنو اړتیا هم شته چې په ځانګړې توګه دغه وېرې لرې شي خو په دې کې ګهوره خبره دا ده چې اوس دا شونې ده چې یو واکسین دې د سرطان د بېلو ډولونو درملنه وکړي.

صحت برای همه

نړیواله تودوخه او د ژویو او ونو طبیعي ټاټوبو ته یې زیانونه

د یوه نوي رپوټ سره سم په نړۍ کې د ځنګلي ژویو د طبیعي ټاټوبو تر دریمې ډېره برخه به په راتلونکو سلو کلونو کې د نړیوالې تودوخې له کبله وران شي.

د طبیعت د ژغورنې لپاره نړیوال صندوق یا WWF وایي چې د ساړه اقلیم او د سمندر د غاړو اوسیدونکې ژوې به د نړیوالې تودوخې تر ټولو مخکې ښکېل وي او زیاتره به له دې کبله د ژوند جوګه پاتې نه شي په یوه نوي ساینسي تحقیق کې ویل شوي چې ډېر ژوې او ونې په خپل چاپېریال کې د لږ بدلون سره هم ډېر زیات حساسیت لري او د طبیعت د ژغورنې نړیوال صندوق یا WWF دغه رپوټ په ګوته کوي چې نړیوالې تودوخې په نړۍ کې څرنګه د بېلو بېلو ژوو او ونو طبیعي ټاټوبي او دوی خپله د ګواښ سره مخامخ کړېدي په ځانګړي ډول هغه ژوې له زیات خطر سره مخامخ دي چې په غرونو یا د شمالي قطب په ساړه اقلیم کې اوسیږي . څرنګه چې دغه سیمې تودیږي نو ژوې او ونې یې نورو مساعدو سیمو ته کډه کوي ددې تر څنګ هغه ژوې چې د سمندر پر غاړو ژوند کوي او هغه ونې او ژوې چې په ځایي چاپېریال کې اوسیږي ټول د ګواښ سره مخامخ دي، خو ستونزه دا ده چې نړیواله تودوخه په داسې چټکۍ سره زیاتیږي چې د ونو او ژوو د دغو ډولونو له پاره ګرانه شي چې ژر خپل ټاټوبي بدل کړي. په تېرو وختونو کې هم دغه شان لیږدېدنې شوېدي خو د WWF له رپوټ سره سم به اوس د ونو له پاره په کار وي چې تر هغه په لس ځلې ډېرې چټکۍ سره ځای بدل کړي چې دوی د کنګل په تېرې زمانې کې بدل کړی و او که چیرې ونې له منځه ځي نو حیوانات هم ورسره مري. زیات شمېر ساینس پوهان په دې اند دي چې ځمکه د ورځې په تېریدو سره نوره هم تودیږي چې سبب یې په فضا کې د شین کوریزو ګازونو خوشې کول دي.

په دې اوسنیو ورځو کې چې کومه بېړۍ شمالي قطب ته تللې وه نو هغې هم د نړیوالې تودوخې په هکله ګرافیک بڼې په کرښو بېودل شوې شواهد وړاندې کړل مسافرو هلته ولیدل چې په شمالي قطب کې یخې وېلې شویدي.

خواږه او د حساسیت او سا لنډۍ سره یې تړون

د کوچنیوالي خواږه کیدای شي د یو شمیر الرژیو یا حساسیتونو یا ساه لنډیو په وده کې مهم رول ولوبوي، په دې هکله تر سره شوې پلټنې په تېر یا تاریکس نومي طبي ژورنال کې خپرې شویدي.

په دغو څېړنو کې د سعودي عربستان تر دریو سوو زیاتو ماشومانو ونډه اخیستې چې دا وګورې چې په نړۍ کې د ساه لنډۍ او الرژۍ یا د حساسیت د ناروغانو پر ډېریدونکي شمېر باندې بېل بېل خواږه څه اغیزه کوي په یوه نوي طبي تحقیق کې ویل شوي چې په نړۍ کې په الرژۍ یا سا لنډۍ اخته ماشومانو شمیر په چټکۍ سره مخ په ډېریدو دی او په هغو هېوادونو کې بیا دغه ناروغي په ډېرې چټکۍ سره زیاتیږي چې ډېر اباد او پر مخ تللي دي ځکه ورسره سم ٤ مخ

داصحابو د ژوند پلوشې

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

۲۱

عبدالله د قریشو د ړیړولو څخه وروسته د انصارو په منځکې لا خپله دمه نه وه جوړه کړې چې د یوه ډېر سخت ازمېښت سره مخامخ شو، او بیا هغه یو داسې ازمېښت چې نه یې په خپل ژوند کې، او نه یې د اسلام له منلو څخه وروسته لیدلی و .

دا دې تاته د هغه د سخت او تریخ ازمېښت کیسه وایو، او ستا غوږونو ته یې رسوو :

حضرت پیغمبر «ص» د لومړني عسکري قیام لپاره اته تنه وګمارل چې د هغو له جملې څخه یو عبدالله او بل سعد بن ابي وقاص و او هغو ته یې داسې وویل :

پر تاسې به هغه څوک مشر وټاکم چې هغه ستاسې په نسبت خوړا ډېر صبر کوونکی وي. بیا یې بیرغ د عبدالله بن جحش لپاره وتاړه او هغه لومړنی امیر دی چې د مومنانو پر ډلې ټاکل شوی دی.

پاک رسول الله «ص» د عبدالله بن جحش لپاره د تګ خوا وټاکله، او فرمان یې ورکړ او ورته یې امر وکړ چې فرمان به د دوه و ورځو له تګ څخه وروسته ګوري.

کله چې عبدالله د دوو ورځو لاره ووهله نو فرمان یې خلاص کړ، او دا یې په کې بیاموند : کله چې ته زما دغه فرمان ته نظر وکړې نو لاړ شه تر هغې چې نخلې ته چې د طایف او مکې تر منځ ده ورسیږې هلته د قریشو څارنه وکړه، او موږ ته د هغو له خبرونو څخه خبر راکړې...

عبدا لله د فرمان له لوستلو لا خلاص شوی نه و چې بې وویل : دخدای د پیغمبر د امر اوریدونکی او منونکی یم.

بیا یې خپلو ملګرو ته وویل : رسول الله «ص» را ته امر کړی دی چې نخلې ته ورشم، او هلته د قریشو څارنه وکړم، او د هغوی خبرو ته ور ورسوم او زه یې له دې څخه منع کړی یم چې ستاسې کوم یو یې د هغه له خوښې د ځان سره روان کړم. که څوک شهادت غواړي او مینه یې لري نو له ما سره دې ملګری شي او که څوک یې نه غواړي نو هغه دې بې له ملامتۍ ستون شي.

هغو وویل : په سر او سترګو، موږ د رسول الله «ص» د امر منونکي یو، او موږ څنګه چې تاته د خدای پیغمبر امر کړی دی درسره تلونکي یو.

بیا هغوی روان شول تر دې چې نخلې ته ورسېدل، بیا هلته د قریشو د خبرونو د څارنې په غرض په کوڅو کې یوه خوا او بله خوا کیدل، هغوی په همدې حالت کې و چې د لرې څخه یې د قریشو قافله ولیدله، او په هغې کې څلور تنه (عمرو بن الحضرمي، حکم بن کیسان، عثمان بن عبدالله او مغیره وروربي، و او دغو څلورو د قریشو قافله چې پوستکي، ممیز او نور شیان په کې بار و روانه کړې وه .

په دغه وخت کې اصحابو پخپلو منځو کې سره مشوري کولې، او هغوی د حرامو میاشتو په وروستۍ ورځې پخپلو منځو کې داسې ویل :

که موږ د هغو سره وجنګیږو نو زموږ جنګ به په حرامو میاشتو کې شي، او په دې سره به د حرامې میاشتې بې حرمتي وشي، او د عربیو د قهر موجب به شي او که وګورو چې دغه ورځ پای ته ورسیږي نو هغوی به د حرم ځمکې ته ورننوځي او په دې سره به خوندي شي.

هغوی په همدغو مشورو کې و چې د ټولو نظر دا شو چې په هغو دې برغل وشي.

او ټول دې ووژل شي، او مالونه دې په غنیمت واخیستل شي.

هماغه و چې هغو په څو شیبو کې د څلورو تنو څخه یو تن مړ، او دوه تنه یې بندیان ونیول او څلورم یې په تېښته خلاص شو .

عبدالله بن جحش او د هغه ملګرو دوه تنه بندیان او قافله یې د ځان سره مدینې ته وخوځوله، کله چې رسول الله «ص» ته ورغلل، او حضرت پیغمبر «ص» د هغو له کړو څخه خبر شو نو د هغو کړه یې وغندل. او هغو ته یې وویل :

پاتې لري

ماین خبرتیا او ژغورنه

OMAR International

د پټ دښمن څرګند ګواښونه ۴

د ناپیژندل شویو او نا مربوطو څیزونو لکه د لویو ساماناونو ته ورته څیزونو پرتو سیمونو قیوزونو، پټاقیو او سرګلولو ته مه نژدې کیږئ له دغسې څیزونو سره لوبې مه کوئ ، پر ډېرو یې مه ولئ، په اور کې یې مه اچوئ او د کبانو د ښکار لپاره یې مه کاروئ.

د ماینونو او ناچاوده مهماتو د لیدو او پېښې پر وخت امنیتي، او روغتیایي تدبیرونه په پام کې ونیسئ او د ماین پاکۍ نژدې ځانګې ته خبر ورکړئ.

مخکې مو د ماینو په څرنګوالي لنډه یادونه کړې وه دا دې اوس په یو څه تفصیل په دې اړه خبرې کوو او د ماینونو ډولونه درپېژنو .

۱- پتنګ ډوله ماین PFM-1

دا د غورول شویو ماینونو یو داسې ډول دی چې پتنګ یا شوپرک ته ورته ښه لري چې شین ، تور، نسواري، شګلن او سپین رنګ لري او له پلاستیک څخه جوړ شوي دي دغه ماینونه له هوا نه د ځمکې پر مخ له الوتکو راغورځول کیږي ځینې یې ځمکې ته تر رسیدو یو څه هوا ژیرمه کوي چې د دغې هوا فشار یې د چاودنې سبب کیږي، ځینې بې ټاکلي فشار نه پښېړوي او له لاس ور وړلو سره چاودنه کوي چې تر پنځو سو ګامونو پورې د مرګ ژوبلې سبب کیدای شي. د دغې ماینونو د لیدو پر مهال ښایي احتیاط وشي، ټول ساکنین ښایي له ساحې څخه په بې خطر ولاړ ولیږل شي د یوه ماین په لیدو د نورو اندېښنه هم ښایي په پام کې ونیول شي چې د پېښېدونکو خطرونو مخه ونیول شي.

غونډ صابون ډوله ماین SB-33

دغه ماین هم د ژوو ضد ماینونو په کتار کې ډېر خطرناک ماین ګڼل کیږي چې په بېلا بېلو رنګونو له پلاستیک څخه جوړ شوی ښه یې د غونډیا ګردې صابون په څېر ده د نسوارو دېلي یا ابرنې (خاسکستر داني) ګمان هم پرې کیدای شي چې له الوتکو راغورځول کیږي او تر لسو دو ولس کلونو پورې په وچه او لمده کې د چاودنې ورتیا لري. دغه ماین هم د نشار له امله چاودنه کوي او تر پنځو سو ګامونو د مرګ ژوبلې سبب کیږي.

قنداني ډوله ماین : PMN

دغه ماین قنداني ته ورته ښه لري لاندېنۍ برخه یې له نسواري پلاستیک او برنۍ برخه یې له تور ربړ څخه جوړه شوي چې د ځمکې پر سر یا لاندې ځای په ځای کیږي چې د فشار او زور له امله چاودنه کوي او تر پنځوس مترو پورې مرګ ژوبله را منځته کولای شي .

ایشتوپ ډوله ماین PMN-2

دغه ماین له پورتني قنداني ډوله ماین سره ورته والي لري، لاندېنۍ برخه یې له شین رنګه پلاستیک او پورتنۍ یې له تور ربړ څخه جوړه شوې ده د دغه ماین ښه او جوړښت داسې دی چې پخپله برنۍ برخه کې د جمعې په څېر د جوړښت نښه لري چې په منځ کې یې یوه دایره لیدل کیږي دغه ماین د ځمکې لاندې ځای په ځای کیږي چې د فشار له راتلو سره چاودنه کوي او تر پنځوس متره د مرګ ژوبلې او ویجاړۍ سبب ګرځي

کوچنی قند انۍ ډوله ماین 72-A

دغه ماین چې د کریم له ډبۍ سره ورته والی لري له پلاستیکي موادو څخه په بېلا بېلو رنګونو خو زیاتره شین رنګ جوړیږي د ځمکې پر سر یا لاندې ځای په ځای کیږي د فشار له امله چاودنه کوي او تر پنځوس ګامونو د مرګ ژوبلې سب ګرځي د دغه ماین تر ټولو ګواښنده ځانګرنه دا ده چې دا داوبو ماین هم دی ځکه خو باید په کاریزونو، چینو، بندونو، ویالو او د اوبو په ګودرونو کې د هغې ګواښ ته پام واړول شي دغه ماین په اوبو کې هم تر ډېره وخته د مرګ ژوبلې خطر لري.

صندوق ډوله ماین PMD-6

دا ماین د وړوکي صندوق ګې ښه لري له لرګي څخه جوړ او بېلا بېل عسکري، لرګین او تور رنګونه لري چې د ځمکې پر سر یا لاندې ځای په ځای کیږي د فشار او زور په واسطه چاودنه کوي او تر پنځوسو ګامونو د مرګ ژوبلې سبب کیدای شي.

څرنګه چې دغه ماین له لرګي څخه جوړ شوی ، خلک په تېره ماشومان داسې ته ګڼني چې دا په ګټې ماین وي د وخت په تېریدو چې د ماین لرګینه برخه ورسته شي خپله هم چاودنه کولای شي.

نور بیا

تا کنون تعداد مدارس لیلیه به ...

خبرنگار اعزامي ما اظهار داشته افزودند :

با گسترش و تحکیم پایه هاي ا.ا.ا در ولایت هرات در شمار مدارس علوم دیني افزایش قابل توجهي بعمل آمده است چنانچه شمار مدارس لیلیه به ٦٤ باب رسیده و در مدارس تهاري ثانوي (عصري) در پهلوي علوم جدید مضامین علوم دیني نیز تدریس میگردد.

موصوف علاوه کردند : پروسه تعلیم و تربیه طلاب مدارس ولایت هرات درچهار دوره به پیش برده میشود که عبارت اند از :

الف : دوره، ابتدائیه که از صنف اول تا ششم را در بر میگیرد .

ب : دوره متوسطه که از صنف هفتم تا نهم را احتوا میکند.

ج : دوره لیسه که از صنف نهم آغاز و تا صنف دوازدهم ادامه پیدا میکند.

د :دوره عالي که مخصوص مدارس جامع و فخر المدارس بوده و صنوف ۱۳ و ١٤ در ان شامل میباشند.

نامبرده خاطر نشان ساختند که بعد از فتح ولایت هرات توسط تحریك اسلامي طالبان در روند معارف ولایت هرات تحولات چشمگیر و قابل وصفي بوجود آمده است. چنانچه در این ولایت اکنون ٦٤ باب مدارس لیلیه دیني، ۳۲ باب مدارس ثانوي، ٤١ باب مدارس متوسطه، و ۱۳۲ باب مدارس ابتدایي در خدمت اولاد این خطه باستاني قرار داشته و به تعداد بیش از یکصد هزار طالب العلمان در ان به کسب و فراگیري تعلیم و تربیه دیني و عصري مشغول میباشند.

در اخیر محترم رئیس معارف ولایت هرات توجه مقامات مسؤل را به امر تجهیز و تنظیم هر چه بهتر بیش از ۲٦۹ باب مدارس لیلیه و نهاري ولایت هرات از نگاه کتب درسي، مفروشات ، اعمار تعمیرات و قرطاسیه باب براي پیشبرد امور اداري و غیره فرا خواند.

عطا محمد «فريادي»

هیئت پوهنتون ...

رهایشي استادان ، باز سازي کتابخانه و مرکز تجارب کمپیوتري موسسه طب به کابل آمده اند دیروز ملاقات به عمل آورد.

بموجب موافقتنامه همکاري علمي طبي بین وزارت تحصیلات عالي و پوهنتون لومالیندا امریکا ، پوهنتون مذکور ضمن مساعدت در عرصه هاي تدریسي ، تحقیقاتي ،اهداي لابراتوار ها و تجهیزات علمي در نظر دارند به مصرف مالي موسسه لومالیندا یك تعداد منازل رهایشي را براي استادان طب در شهر کابل اعمار و کتابخانه این موسسه را جهت اجراي تحقیقات علمي و تجارب کمپیوتري باز سازي نمایند .

براي این منظور هیئت مهندسین مشتمل بر انجنیران نوبل و انجنیران کارل شوین وارد کابل شده و دیروز طي ملاقاتي با محترم وزیر تحصیلات عالي آماده گي شانرا براي ساختمانهاي مذکور اظهار کردند.

متقابلاً محترم وزیر تحصیلات عالي با اظهار قدرداني از مقامات پوهنتون لومالیندا طرح دیزاین و نقشه هاي منازل رهایشي و باز سازي کتابخانه طب کابل را ملاحظه نموده و به انجنیران مذکور در امر تحقق برنامه هاي علمي و عمراني شان وعده هرگونه همکاري داد.

طبق یك خبر دیگر بر مبناي پلان مجوزه کار باز سازي کتابخانه عامه طب کابل به مصرف مالي پوهنتون لومالیندا امریکا دیروز طي مراسمي در موسسه طب کابل افتتاح گردید.

درین محفل محترم قاري دین محمد حنیف وزیر تحصیلات عالي ، محترم مولوي محمد مسلم حقاني معین اداري وزارت متذکره یك تن از مهندسین امریکایي به نماینده گي از هیأت رهبري پوهنتون لومالیندا و محترم مولوي حمد الله نعماني کابل شاروال پیرامون مشکلات موسسات تحصیلي و خصوصاً طب صحبت نموده از همکاري و خدمات پوهنتون لومالیندا بمثابه پیشگامان موسسات علمي و تخصصي منابع بین المللي که قدم هاي مثبتي را براي مساعدت به موسسه طب کابل برداشته اند اظهار قدرداني نمودند.

خواړه او د حساسیت او ...

بی د وګړو د ژوند لاری چاری هم واوړی خو دا چی هغه کوم بدلونونه دی چی د نوموړو ناروغیو کچه ورسره لوړیږی ددی په هکله لا تراوسه بیل بیل نظرونه شته خو دغه نوی څیړنی ښیی چی خواړه په دی هکله یو مهم عامل دی.

په سعودی عربستان کی د جدی د پوهنتون او په سکاتلند کی د هبېر نرد پوهنتون د ساینس پوهانو یوی ډلی د هغو ۱۱٤ ماشومانو څارنه وکړه چی په سا لنډی اخته وو د هغو سلو ماشومانو له خوړو سره پرتله کړل چی په نوموړی ناروغی اخته نه و .

په تېرو دریوو لسیزو کی سعودی عربستان ډیر شتمن شوی چی له کبله بی د وګړو په خوړوکی هم بدلونونه راغلی دی د سعودی دودیز خواړه وریجی، سابه، پسه، چرګ او ځایی میوی دی خو په ځانګړی توګه بی په ښاری سیمو کی د لویدیځ ډوله خوړو کارول مخ په زیاتیدو دی چی کنګل شوی او تر ساینسی پروسو تیر شوی وی.

څیړنو وموندل هغو ماشومانو چی تر ټولو لږ سابه اوشیدی ویټامینونه او معدنیات بی خوړلي زیاتره له ساه لنډی سره لاس او ګریوان وو . دغو څیړنو هغه موندنی لږ نوري هم باوری کړی چی وایی په نړی کی د ساه لنډی او الرژی یا حساسیت د ډیریدو یو مهم سبب خواړه هم وی .

یك باب مدرسه ...

مشي معارف دوستانه امارت اسلامي صحبت نموده آماده گي هاي شان را بخاطر تحقق اهداف امارت اسلامي در سراسر کشور ابراز داشتند.

در اخیر سنگ تهداب مدرسه متذکره توسط خطیب مسجد جامع ولسوالي تجراب و یکتن از علماي مشهور کشور محترم خواجه خلیل الله گذاشته شد.

بند قرغه مجدداً ...

اعظم علمي معین وزارت اب و برق و عده از رؤسا و مسوولین وزارت آب و برق و نماینده گان دستگاه ساختماني هلمند اشتراك داشتند محترم علمي در مورد اهمیت ترمیم و باز سازي بند قرغه که منبع عمده و بزرگ ذخیره و تهیه آب آشامیدني و زراعتي میباشد صحبت نموده توجه کارگران و مسولین امور را در تسریع امور ترمیماتي و ساختماني آن معطوف داشت.

به قول یك منبع مسوول امور باز سازي و ترمیماتي بند قرغه به مصرف مجموعي دو ملیارد افغاني از بودجه امارت اسلامي افغانستان با دستگاه ساختماني هلمند قرار داد گردیده و ظرف دو ماه آینده کار آن تکمیل خواهد شد.

منبع افزود : بند ذخیره آب قرغه از جمله ساختمانهاي بزرگ آبیاري در ولایت کابل به حساب مي آید که در سال ۱۳۳٦ اعمار گردیده است طول بند چهار صدو پنجاه متر و ارتفاع آن سي متر میباشد. ظرفیت کاسه بند چهارده ملیون متر مکعب آب میباشد ساحه تحت آبیاري بند متذکره ده هزار جریب زمین بوده که شامل ساحات قرغه ، سپین کلي ، پولیتخنیك ، باغ بالا و قارم بادام باغ میباشد.

بند مذکور از آغاز تا کنون پاك کاري نگردیده و نسبت خشکسالي کاسه آن از آب تخلیه شده و قراریکه دیده میشود رسوبات کثافات آب بداخل بند به هشت متر میرسد.

منبع علاوه کرد وزارت آب و برق در نظر دارد تا کاسه بند مذکور را به حجم شانزده هزار متر مکعب پاك کاري و دروازه خروجي بند را ترمیم نماید.

موضوع تجدید ...

نماینده دایمي مالیزیا دایر گردید شرکت کننده گان تاکید کردند که بنا بر تعداد بزرگ نفوس مسلمانها در جهان که تقریباً به یك ملیارد و پنجصد ملیون نفر میرسد باید یك چوکي دایمي براي مسلمانها در شوراي امنیت اختصاص داده شود.

امریکا به عراق ...

تسلیحات امحاي جمعي در عراق هوشدار داد .

نطاق وزارت دفاع ایالات متحده امریکا گفت واشنگتن براي مقابله با بغداد آماده گي کامل دارد.

نطاق وزارت دفاع ایالات متحده امریکا همچنان افزود طیارات عراقي اخیراً دو بار بر فراز منطقه پرواز ممنوع در جنوب عراق پرواز کردند و فیصله نامه در این زمینه را نقض کردند . روز نامه نیویارك تایمز نیز پریروز نوشت طیارات عراقي بتاریخ چارم ماه روان عیسوي بر فراز خاك عربستان سعودي پرواز کردند وزیر خارجه امریکا نیز پریروز گفت واشنگتن در صورت مشاهده تحریکات از طرف عراق آماده استفاده مناسب از نیرو هاي خود در منطقه است. عراق پریروز ضمن هوشدار به کویت این کشور را متهم به استفاده از دو حوزه نفتي عراق کرد.

په بامیانو کې ...

تاسیساتو د جوړولو په لړ کی په دی وروستیو وختو کی د نری رنځ او د جزام د ناروغیو د علاج او درملنی د پنځوس بستر یز روغتون د بنست ډبره د بامیانو ولایت مرستیال محترم مولوی شمشاد له خوا په داسی حال کی چی د دغه ولایت د بیلا بیلو ادارو یو شمیر چارواکی هم حاضر وو د دغه ولایت په مرکز کی کیښودل شوه . دغه روغتون به د لیفکو د خیریه موسسی په مالی مرسته او د کوفا موسسی انجنیرانو په همکاری په راتلونکو د وو میاشتو کی په پاخه او اساسی ډول جوړ شی.

کابل ښاروالي ...

موظفینو له خوا په ښار کی د بیلا بیلو اصنافو او لومړنیو موادو د وراندی کولو یو سلو شپږ دکانونه او ځایونه له دریو څخه تر لسو ورځو پوری په جزایی توګه وتړل شول.

د کابل ښاروالی د ببو د کنترول د موظفینو د څارنی او پلټنی له امله د قصابی نهه ځلوېښت دکانونه او ویشت د وړی پخولو نانوایی ګانی او داشونه پنځلس رستورانتونه ، څلور حمامونه او یوولس لرګی پلورنځی ، ګاز پلورنځی او آیس کریم پلورنځی د ببو د لوړوالی ، په وزنونو کی د تقلب ، د نظافت د نه مراعاتولو او د ښاروالی له تاکل شویو مقررو څخه د سرغړونی له امله له دریو نه تر لسو ورځو پوری وتړل شول.

د یو بل خبر له مخی د کابل ښاروالی ریاست له ټولو هیواد الو نه غوښتنه کوی چی د مربوطو موظفینو د کنترول په وخت کی له هغوی سره همکاری وکړی او خپل داړتیا ور مواد د ښاروالی له نرخ نامی سره سم د ښار له اصنافو نه تر لاسه کړی او هغه کسان چی په دی باب سرغړونه کوی د کابل ښاروالی د ببو د کنترول موظفینو ته وروپیژنی.

با نصب شش پایه ...

تولید برق را آورده اند که صرفاً یک خانواده میتواند از انرژی برق آن مستفید گردد.

دوجریب زمین از بته ...

بته های چرس پاکسازی گردید.

به اثر سعی و تلاش منسوبین ریاست امر بالمعروف و نهی عن المنکر ولایت لوگر اخیراً موازی دو جریب زمین که در منطقه لاچی خیل برکی برک ولایت لوگر چرس کشت گردیده بود کشف و بته های آن تحت نظر هیأت موظف از بین برده شد.

بدخشانانه د مرکز ...

ته په فیض آباد ترجیح ورکوی چی وکولای شی په آسانی سره له هغه ځایه له تاجکستان سره د خپلو اضطراری هیأتونو او هلو ځلو لړی جاری وساتی. خبر زیاتوی له اسلامی امارت سره د بدخشانی مجاهدینو او د سیدونکو ورځ په ورځ زیاتیدونکو مرستو

ملك	شپږ میاشتني	کلني
	د ګډون بیه له هیواد نه بهر	
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	USS75	USS150

۱۵۰ تنه محصلین فارغ او ...

ښځینه پرستارانی ټولنی ته وراندی کړي.

دغه تکی د ننګرهار ولایت د منځنی طب انستیتوت مسوؤل محترم استاد سید قیاس «سعیدی» څه موده مخکی د خپل کار په دفتر کی زمونږ له خبریال سره د مرکی په ترڅ کی څرګند او زیاته یی کړه :

د ا.ا.ا تر واکمنی را وروسته د ننګرهار ولایت د منځنی طب انستیتوت په چوکاټ کی د لومړی ځل لپاره د پرستاری پر څانګی برسیره د طبی تکنالوژی ، مرستیال ډاکترانو ، درمل جوړولو ، رادیولوژی او د غاښونو د طب څانګی تأسیس شوی د تیرو دریو کلونو په موده کی په دغو څانګو کی ۱۵۰ تنه محصلین روزل شوی او د ټولنی روغتیایی خدمتونو ته وراندی شوی. د ننګرهار ولایت د منځنی طب انستیتوت په داسی حال کی چی یو مجهز لابراتوار او یو مجهز کتابتون هم په اختیار کی لری تدریسی چاری یی په زیات نظم او دسپلین سره د تکړه او مجربو ښوونکو له خوا پر مخ بیول کیږی.

نوموړی زیاته کړه : د خشیځ زون په درملتونو کی د درمل جوړونکو د نشتوالی او یو لړ نورو ستونزو د لری کولو په خاطر مو په دی وروستیو وختو کی د ننګرهار ولایت د منځنی طب انستیتوت په چوکاټ کی د تکنیشن درمل جوړونی تر نامه لاندی یو کلن کورس هم تأسیس او پرانستلی د نوموړی کورس یو څانګه د لغمان ولایت کی فعالیت کوی.

حمید الله «عالمی»

دوه سوه کورني د ګاز له انرژي ...

اطلاعاتی اژانس خبریال ته ویل په هیواد کی د ټولګټو کارونو او د جوزجان ولایت په اړوند ولسوالیو کی د ګاز رسولو د شبکی د پراختیا په دوام په دی وروستیو وختو کی د افغان ګاز د تصدی ریاست له خپلو امکاناتو څخه په استفادی او د اړوندو انجنیرانو د هڅو او هاند له امله د جوزجان ولایت د آقچی ولسوالی د کندر باغ کلی ته د ګاز نل وغځاوه .

خبر ځای زیاته کړه په پام کی دی چی د جوزجان ولایت نورو اړوندو کلیو او بانډو ته هم د ګاز نلونه وغځول شی.

څنګه چی همدا اوس د شبرغان په ښار کی څه د پاسه دولس زره کورنی د آقچی په ولسوالی کی څه د پاسه دوه زره کورنی او د خواجه دو کوه په ولسوالی کی څه د پاسه زر کورنی د طبیعی ګاز له انرژی کار اخلی.

د هیواد د شمال په سیمو کی د ګاز رسولو د شبکو د بیا جوړولو په دوام تاکل شوی ده د جرقدق او د خواجه ګوګرد ک د ګاز د چاهو لو د فابریکو ودانی چی د تیرو رژیمونو په دوران کی ویجاړی شوی وی بیا جوړی شی.

خبر ځای زیاته کړه : د هیواد د شمال په سیمو کی د اسلامی امارت له پیلګیت وروسته د افغان ګاز د تصدی ریاست د نورو ټولګټو خدمتونو په تر سره کولو سربیره د دوه اویا کیلو مترو په اوږدوالی د شبرغان مزار شریف د ګاز د پایپ لاین د غزولو پاتی کار د افغان ګاز تصدی د ریاست له بودجی څخه د څه د پاسه پنځو ملیاردو افغانیو په لګښت بشپړ کړی دی چی د مزار شریف په ښار کی څه د پاسه لس زره کورنی له طبیعی ګاز څخه کار اخلی. دغه راز په پام کی دی چی په نږدی راتلونکی کی د مزار شریف پنځوس زره کورنی د ګاز له انرژی څخه استفاده وکړی .

مساعدت سره میاشت توزیع ...

شهر کابل از طریق ریاست عمومی جمعیت افغانی سره میاشت توزیع گردیده است بتاسی از کمک های بشر خواهانه جمعیت عالی افغانی سره میاشت به اشخاص مستحق و بی بضاعت روز پنجشنبه به ارزش ۲۸۰ ملیون افغانی مواد خوراکه شامل گندم ، دالنخود ، روغن و برنج به یک تعداد فامیل ها در نواحی هشتم یازدهم و دوازدهم شهر کابل توزیع گردیده است

او علایقو موجودیت مسعود نور هم دی ته اړ باسی چی په خپل موقف تینګار وکړی.

خو د مسعود دغه موقف د سیمی او د هغه د خپلو نژدی ملګرو له سخت اختلاف سره مخامخ شوی دی او له همدی امله په تالقانو کی هره ورځ په لس ګونو تنه وسله وال وګړی په خپله خوښه د اسلامی امارت له ځواکونو سره یوځای کیږی.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Ghulam M.Farooq
Printed by: Emirate Printing Press